مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۲۱مه | د ۲۰۲۱ د جنوري لسمه | ۶۶۰مه ګڼه

# د امریکا او افغان حکومت کشمکش؛

## شنونکي: ښکاري چې ولسمشر ته د موقت حکومت د جوړولو پیغامونه رسول شوي




۵

د سولې لپاره د غني د واک په ګډون ډېر څه قرباني کېدای شي
۲ مخ

له مذاکراتو وروسته د افغانستان انځور
۲ مخ

محیط زیست در شهرهای بزرگ کشور حالت وخیمی اختیار نموده است
۳ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## اریا پوهنتون

اریا پوهنتون د محصلینو د ورتیاوو د لوړاوي په موخه، په هیواد کې د ننه او له هیواده د باندې له ځینو پوهنتونونو سره علمي هوکړې لاسلیک کړې دي.



## کرنې ریاست: روان کال په ننګرهار کې د مېوو ۱۸۶۲ جریبه نوي بڼونه جوړ شوي



د ننګرهار د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې سږ کال يې په دغه ولایت کې د بڼوالۍ د پراختیا په پار بڼوالو ته ګڼ شمېر نوي بڼونه جوړ کړي دي.
د ننګرهار د کرنې او مالدارۍ رییس انعام الله صافی وايي، د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې او نورو همکارو پروژو په همکارۍ يې په دغه ولایت کې سږکال د مېوو ۱۸۶۲ جریبه نوي بڼونه جوړ کړي، چې په دغو بڼونو کې د نورو بڼونو ترڅنګ د سټروسو بڼونه هم شامل دي.
د چارواکو په خبره، د دغو بڼونو ترڅنګ بڼوالو ته روزنیز پروګرامونه هم جوړ شوي، د بڼوالۍ اړوند توکي او کېمیاوي سرې هم پرې وېشل شوي دي.
چارواکي وايي، هڅه کوي چې په دغه ولایت کې په مسلکي ډول د مېوو بڼونه جوړ او بڼوالو ته د عملي او نظري زده کړو زمینې په برابرولو سره وکولی شي یاد ولایت د مېوو له پلوه ځان بسیاینې ته نږدې کړي.

## بهرنیو چارو وزارت: هڅه کوو چې د سولې په تړاو نړیواله اجماع لا ډېره پیاوړې شي


افغان حکومت د دویم پړاو مذاکراتو په لړ کې د نړیوال ملاتړ د خپلولو په لټه کې دی. د هېواد د بهرنیو چارو وزارت وايي، تازه يې هڅې پیل کړي چې د دویم پړاو مذاکراتو د بریا لپاره نړیوال ملاتړ او سیاسي اجماع لا ډېره پیاوړې کړي.
د بهرنیو چارو وزارت ویاند ګران هېواد رسنیو ته په استولي ویډیويي پیغام کې ویلي چې د بهرنیو چارو وزیر په دې وروستیو کې د ګڼو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو او ډیپلوماتانو سره پر افغان سوله خبرې کړې دي. ګران هېواد وايي، يادو هېوادونو ژمنه کړې چې دوی د افغانستان د سولې له پروسې سره پوره همکاري کوي او هڅه يې دا ده چې په دې پروسه کې مثبت رول ولوبوي. بهرنیو چارو وزارت وايي چې د نړۍ له پیاوړو هېوادونو سره به د دوی بحثونه او خبرې دوام کوي.
د ګران هېواد په وینا، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت هڅه کوي چې د سولې په پروسه کې خپل لومړیتوبونه ترلاسه کړي. هغه وايي چې حنیف اتمر تر اوسه د امریکا او ملګرو ملتونو د استازو ترڅنګ د اندونیزیا، ناروې، هندوستان، کاناډا، استرالیا او ترکمنستان د بهرنیو چارو له وزیرانو سره هم اړیکې نیولې دي.

## طالبان: د راتلونکي نظام په اړه باید د دوحې په خبرو کې پرېکړې وشي



۵ مخ

## اوزبیکستان: اگر با افغانستان دهلیز ساخته شود، هزینه حمل و نقل بیش از ۱۰ برابر کاهش می یابد



صادق صفویف، معاون اول رئیس مجلس سنا در مجلس اولیای اوزبیکستان گفت، اگر دهلیز حمل و نقل افغانستان ساخته شود، هزینه حمل و نقل برای اوزبیکستان بیش از ۱۰ برابر کاهش می یابد.
در نشست مطبوعاتی کلوپ بین المللی به تاریخ ۳۰ دسامبر، صفویف به دو نکته مهم برای توسعه روابط بین اوزبیکستان و افغانستان پرداخت. به گفته صفویف، اینها مسائل امنیتی و سیاست اقتصادی است. به گفته او افغانستان از دو لحاظ برای اوزبیکستان حایز اهمیت می باشد: اول، مسئله امنیت است. صلح در افغانستان، مبارزه با گروه های تروریستی و افراطی یک عامل مهم جهت تامین امنیت در قلمرو مرزی اوزبیکستان با کشور های همسایه میباشد. دومین مسئلۀ مهم ایجاد دهلیز حمل و نقل افغانستان می‌باشد. ما بارها این را گفته ایم که این موضوع برای اوزبیکستان مسئله مرگ و زندگی است.
وی افزوده است، زیرا خلیج فارس و بنادر دریایی در اقیانوس هند از طریق افغانستان نزدیکترین آنها برای ما می‌باشد. رئیس جمهور اوزبیکستان بسیار با جدیت همراه با کشورهای بزرگ کار میکند. البته یافتن نقاط مشترک دشوار میباشد. اگر این دهلیز ساخته شود، هزینه حمل و نقل برای ما بیش از ۱۰ برابر کاهش می‌یابد.
در حین حال، صفویف خاطر نشان ساخت اینکه، حداکثر ۲۰ درصد از عملیات صادرات و واردات ما مصرف حمل و نقل می‌شود. البته ایجاد دهلیز از طریق افغانستان، سبب کاهش هزینه بازار داخلی ما نیز خواهد شد.




## سرلیکنه

# د سولې لپاره د غني د واک په گډون ډېر څه قرباني کېدای شي

ولسمشر غني یو ځل بیا ویلي چې واک یوازې د ټاکنو له لارې نوي راتلونکي ولسمشر ته پرېږدي او له دې پرته به واک پرې نه ږدي. نوموړي دا خبرې له هغه وروسته کړې دي چې له بېلابېلو لورو د سولې په پروسه کې پر موقت یا انتقالي حکومت د بحث خبرې را پورته شوې دي. که څه هم طالبانو بیا بیا موقت حکومت رد کړی، خو ځینې کسان وایي چې د سولې په پروسه کې یو انتقالي حالت ته اړتیا ده چې پکې به دې دواړو لورو ترمنځ شوي توافقات عملي کېږي او دا حکومت به یو اوږدمهاله حکومت ته لار پرانیزي. دا خبرونه هم شته چې آن خپله ولسمشر غني ویلي چې موقت حکومت په دې شرط مني، چې مشري یې خپله ده ته وسپارل شي، خو طالبانو دا طرحه رد کړې ده.

د موقت، انتقالي یا سرپرست حکومت پر څرنگوالي او اړتیا بحث کېدلی شي، ځکه چې ښایي د سولې په پروسه کې همداسې یو دولت ته اړتیا وي، خو دا چې هر څه یو مخ رد شي، دا بیا د سولې د مخالفت مانا لري. کله چې ولسمشر غني وایي چې واک به بل ټاکل شوي ولسمشر ته سپاري، دا په دې مانا ده چې نوموړی به خپله د واک موده پوره کوي او بیا به ټاکنې کېږي چې پکې به نوی ولسمشر راځي او بیا به واک ورسپارل کېږي. ولسمشر غني هېروي چې د افغانستان د سولې پروسه کومه عادي پروسه نه ده، بلکې که بریالی شي، نو په دې هېواد کې یو شل کلن خونړی جنگ ختموي، نو ځکه څوکی، واک او ډېر نور څه به پکې قرباني کېږي. د ولسمشر غني تصور دا دی چې طالبان دې د ښاغلي حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب په شان راشي او د کابل په یوه څنډه کې دې واړوي او بیا دې د نړۍ په تر ټولو ناوړه، له درغلیو ډکو او شرموونکو ټاکنو کې برخه واخلي. په داسې حال کې چې نه طالبان د حزب اسلامي په شان دي او نه هم دا چاره ممکنه ده. که طالبان په موقت یا لنډمهاله اداره راضي شي، باید ومنل شي او د سولې پروسه مخ ته ولاړه شي. د ولسمشر غني دا تصور نه واقعي دی او نه یې هم خلک ورسره مني. یوازې خپله ولسمشر او څو ملگري یې د واک دې جنون اخیستي او هېره کړې یې ده چې د افغانستان خلک د سولې لپاره دې ده د ولسمشرۍ په گډون ډېر څه قرباني کولی شي.

د سولې پروسه باید مخ ته ولاړه شي. دواړه اړخونه به په طبیعي ډول یو بل ته یو څه ورکوي او یو څه به اخلي. واک به حتمي ویشل کېږي، موقت یا انتقالي حکومت به راځي او که دا نه وي، په نوي حکومت به توافق کېږي او اشرف غني مجبور دی چې واک پرېږدي. په ارگ کې واکمن باید درک کړي چې د افغانستان خلک او نړۍ په افغانستان کې سوله غواړي او سولې ته د رسېدو لپاره هېڅ ډول خنډ او ځنډ ورته د زغملو وړ نه دی. که د سولې په خبرو کې پرمختگونه وشي او طالبان هم انعطاف وښیي، نو ولسمشر به بیا د خنډ جوړولو پر مهال د خلکو له سخت او جدي غبرگون سره مخ شي.

# له مذاکراتو وروسته د افغانستان انځور

ذاکر جلالي

نظامونه د کلونو، لسیزو او نسلونو په اوږدو کې جوړېږي، خو ځینې داسې پېښې راشي، چې په لنډه موده کې د ټول نظام شیرازه وپاشي. د نظام ټینگښت او پایښت په دې پورې اړه لري چې څومره یې بنسټونه او ستنې ټینگې ایښودل شوي دي. د درېیمې نړۍ او لوېدیځو دولتونو ترمنځ یو مهم توپیر همدغو بنسټونو کې دی. لوېدیځ کې نهادگرایي ده. افراد ډېر ټاکونکي نه دي. افراد ځي راځي، موقتي ماموریتونه لري؛ خو بنسټونه دایمي دي. د امریکا متحده ایالتونه یو له هغو دولتونو څخه گڼل کېږي چې ډیموکراتیک نهادونه او بنسټونه یې ټینگ دي. همدا لامل دی چې ډونالډ ټرمپ غوندې یو غیر طبیعي او ناروغ انسان په څلور کلنه واکمنۍ کې د امریکا د ټینگو بنسټونو له امله ډېره خرابي ونه شواى کړای. ټرمپ چې څومره لنډپاری او د وړاندوینې وړ نه و؛ خو بیا هم بالاخره څلور کاله وروسته ځي او خپل ځای نوي ولسمشر ته پرېږدي.

د دې پر خلاف، په ختیځ یا په ځانگړې ډول درېیمه نړۍ کې واکمنۍ او ان دولتونه د افرادو په گروت کې دي. زموږ په نږدې تاریخ کې تل د داوود خان ستاینه کېږي. زه هم د داوود خان خدمتونه ستایم او دعا ورته کوم؛ خو د چنگاښ د ۲۶مې کودتا یې غندم. دا یې تاریخي تېروتنه وه. له دې کودتا سره افغانستان کې د نهادسازۍ لړۍ نه یوازې دا چې په ټپه ودرېده، بلکې تباهي یې پیل شوه. داوود ښه خدمات هم وکړل. په تېره د زېربنا په برخه کې؛ خو داوود خان په نهایت کې یو فرد و. نهادسازي یې ونه کړه. په یوه ځان هم ولسمشر و، هم لومړی وزیر، هم خارجه او دفاع وزیر! اول دا چې په دې وطن کې دومره څوک نه وو چې دغه وزارتونه وچلوي؟! دویم دا چې ایا د ده وړتیا دومره زیاته وه چې په یوازې سر یې دومره چارو ته اوږه ورکړې وه؟! په هر صورت، د داوود خان د واکمنۍ پای ډېر دردوونکی او زړه‌بوږنوونکی و. د دې لپاره چې نهادسازي نه وه شوې، د داوود خان له شهادت سره هر څه په بل مخ شول او افغانستان د اوږدې او نه ختمېدونکې جگړې کور شو.

**نوی پړاو**

له پورته مقدمې مې هدف دا دی، چې د دې لیکنې له لارې ځوان او تحصیل‌یافته نسل او همداراز په دوحه کې د مذاکراتو لوریو ته وریاده کړم چې موږ د خپل تاریخ په یوه ډېر حساس پړاو کې یو. موږ د سولې یو تاریخي فرصت لرو. له هر فرصت سره ننگونې وي او هره ننگونه کې فرصت موندل کېدای شي. دا د طبیعت قانون دی. موږ د سولې داسې فرصت لرو چې څه باندې څلورو لسیزو کړکېچ کې یې مثال نشته؛ مگر که دغه فرصت درک نه شي او ترې گټه پورته نه شي، ښایي د بلې جگړې بلا خوله خلاصه کړي. ښایي د سولې لپاره دغه اوسنی نړیوال ملاتړ بیا ونه لرو، ښایي هېر شو، منزوي شو او لکه مغولستان یوازې د نړۍ په نقشه کې مو نوم وي او نور نه دنیا له موږ خبره شي او نه موږ له دنیا.

موږ تل ادعا کوو چې افغانستان د پردیو د لاسوهنو او پوځي مداخلو او یرغلونو قرباني دی. په دې کې شک نشته. دا ټول مني؛ اما دا ځل د جگړې بهرنی بُعد چې امریکا او ناټو ده، د دوحې په هوکړه کې د خپلو ټولو ځواکونو د وېستلو ژمنه وکړه او نوره یې مسئله افغانانو ته سپارلې. د دوحې هوکړه که له یوې خوا له افغانستانه د ټولو بهرنیو ځواکونو وېستلو ته لار اواروي، له بلې خوا له راتلونکي افغانستان سره د دغو دولتونو پتمنې او مثبتې اړیکې هم تضمینوي او د دوی ناپوځي حضور ته لار پرانیزي چې دا د افغانستان په گټه هم ده. د دغه وړ حالت راگرځول دې پورې هم اړه لري چې زموږ راتلونکي تصمیم‌نیوونکي څومره کولای شي هغه حالت مدیریت کړي او د افغانستان لپاره ترې گټه پورته کړي. سره له دې چې د دوحې په خبرو کې د بهرنیانو اغېز شته او له دې څوک انکار نه شي کولای؛ خو د مېز دواړو غاړو ته افغانان ناست دي او د همدغو افغانانو مثبتې پرېکړې افغانستان ته سوله او ثبات راوستلای شي او د دوی منفي پرېکړه دغه فرصت زموږ له لاسه وېستلی شي. په دې ډول د افغانانو پرېکړې ټاکونکې دي چې دا یوه ښه خبره ده. د دوی پرېکړې زموږ پر برخلیک اغېز کوي؛ ځکه په دې اړه باید خپل غږ پورته کړو.

اوس نو دا هم څرگندېږي چې افغانان په خپلواک ډول د پرېکړو څومره صلاحیت او استعداد لري، که سولې ته ورسېږي، ښې پرېکړې وکړي، دا به یې له خدای، ولس او وطن سره د وفا او ژمنتیا ښنه وي. که خدای مه کړه، جگړه دوام پیدا کوي، بیا نو نړۍ او افغان ولس پر افغان سیاسي مشرانو نور هم بې‌باوره کېدای شي چې دوی ریښتیا هم د ښو پرېکړو استعداد کم لري!

**هیلې چې په نهیلیو واوښتې**

د روان کړکېچ له پیله موږ د افغانستان په تاریخ کې څو د عطف ټکي لرو چې افغانانو ورته هیلې درلودې؛ خو معکوسې وختلې. د روسانو له وتلو سره د «اسلامي حکومت» شعار تود و. افغانانو فکر کاوه چې د روسانو له وتلو سره به داسې «اسلامي حکومت» راشي چې زموږ ملي تاریخ کې یې ساری نه وي؛ ځکه چې زموږ مجاهدینو پخواني حکومتونه له یوې مخې نامشروع بلل. د روسانو له وتلو او د نجیب له سقوط وروسته ریښتیا هم داسې حالات راغلل چې زموږ ملي تاریخ کې یې ساری نه و!

د مجاهدینو له تنظیم‌جنگیو وروسته د طالبانو له راتگ سره بیا هیلې راوټوکېدې. طالبان په دې وتوانېدل چې افغانستان له ملوک الطوایفۍ څخه پاک کړي او سوله او امنیت حاکم کړي؛ خو طالبان ونه توانېدل چې یو افغان‌شموله حکومت رامنځ ته کړي. له همدې امله کورنۍ جگړو د طالبانو د حکومت تر پایه دوام وکړ. بې له شکه طالبانو سوله راوړه؛ خو دا چې له سولې د هېواد د پرمختگ او پراختیا لپاره گټه پورته شي، له بده مرغه د کورنۍ جگړې دوام فرصت نه ورکاوه چې په دې برخه کې لازم کار وشي. د جگړې د ختم لپاره هم قناعت‌بښونکي گامونه پورته نه شول. له همدې امله د طالبانو نظام ونه شوای کړای چې خلکو ته لازم خدمات وړاندې کړي او ټول افغانان پر ځان راټول کړي.

**د نوي افغانستان جوړونه**

اوس چې افغان مرکچي پلاوي په دوحه کې خبرو ته جرگه شوي، دا یو بل تاریخي پړاو دی. ښایي دواړو لوریو په وړاندیز کړو اجنډاوو کې ډېر بحثونه ځای کړي وي؛ خو اساسي بحث دا دی چې څنگه داسې حکومت رامنځ ته شي چې ټولو افغانانو ته د منلو وي. اوسنی حکومت د دې تر څنگ چې ونتوانېده د خلکو زړونه خپل کړي، شفاف خدمات وړاندې کړي، له فساده پاکه حکومتولي راجوړه کړي، طالبانو ته ځکه د منلو نه دی چې پر جوړښت او بنې یې نیوکې لري. ځکه نو د دوحې بین الافغاني خبرو کې اساسي بحث د نظام دی.

طالبان «د افغانستان اسلامي جمهوریت» په رسمیت نه پېژني او نږدې دوې لسیزې یې پر ضد وجنگېدل. حکومت او کابل کې سیاسي لوري «د افغانستان اسلامي امارت» نه مني. دا د اختلاف او منازعې ټکي دي. اوس که حکومت همدا جمهوریت سره کربښه وگرځوي او یا طالبان امارت سره کربښه کړي، مانا یې دا ده چې مذاکرات له بُن‌بست سره مخ دي. دا د مذاکراتو کلچر هم نه دی چې هر لوری پر خپلو سرو کرښو ولاړ وي. که داسې وي بیا د مذاکراتو اړتیا نشته. طبعاً هر لوری به د خپلو ارزښتونو د تر لاسه کولو لپاره هڅه کوي. د مذاکراتو مانا راکړه ورکړه ده. مانا دا چې دواړه لوري پر یوه څه منزاعه لري او دا منازعه د جگړې په ډگر کې نه اوارېږي؛ نو د لوریو سیاسي استازي د مذاکراتو د مېز شاوخوا کېني او یو څه راکړه ورکړه سره کوي. د مذاکراتو مېز ته له ناستې سره دا قابل فهم ده چې هم طالبان او هم افغان حکومت د څه ورکولو په مقابل کې څه اخیستو ته چمتو دي او له همدې لارې به حل ته رسېږي.

د نظام د بڼې په اړه تر ټولو اسانه او کېدای شي چې دواړه لوري پرې توافق ته هم ورسېږي، «د افغانستان اسلامي دولت» ومنل شي. دا به د افغانستان د یوه داسې حکومت رسمي نوم وي چې هم به په کور دننه د ټولنې مختلفو قشرونو ته د منلو وي او هم به نړۍ ترې د گواښ احساس نه کوي او تعامل به ورسره کوي. هم به د دیني ارزښتونو خوندیتوب پکې تضمین وي او هم د خلکو حقونه او ازادي.

**حللاره: افغان‌شموله حکومت او مثبته سوله**

د دې لپاره چې دا فرصت هم خدای مه کړه ضایع نه شي او یا داسې یو حل رامنځ ته شي چې کاواکه او ماتېدونکی وي، پکار ده چې افغان لوري دا ځل د افغانستان مسئله په اساسي توگه اواره کړي. زموږ نږدې تاریخ موږ ته ډېر درسونه راپرېښي. که له تاریخه زده‌کړه ونه کړو، بیا بیا راباندې تکرارېږي، نو له تاریخه داسې زده‌کړه پکار ده چې د راتلونکي افغانستان د ودانۍ د بنسټ ډبره کړه کېنږدو. دا چې د راتلونکي افغانستان بنسټ ټینگ کېښودل شي، داسې حل پکار دی چې دوه ټکي پکې وي:

لومړی افغان‌شموله اواری او دویم مثبته سوله دې واکمنه شي.

**افغان‌شموله اواري**

له افغان‌شموله اواري زما مقصد دا دی، چې پر داسې سیاسي ډانچه هوکړه وشي، چې ټول واړه او لوی افغان لوري پکې ځانونه وگوري. یا په بل عبارت، داسې اواری چې هېڅ لوری پکې حذف نه شي، ځکه هر ځل چې له سیاسي اواري کومه ډله بهر پاتې شوې، بله جگړه پیل شوې. نو د افغان‌شموله اواري لپاره دواړو مرکچي پلاوو ته پکار دي، چې سر له اوسه ذهناً دې ته چمتو شي چې راتلونکي افغانستان کې به په گډه چارې سمبالوو او ژوند به کوو. ښایي اختلافات وي او دا طبیعي هم ده. په بشري ټولنه کې هېڅ وخت اختلاف صفر ته نه رسېږي؛ خو مهمه دا ده چې اختلافات مدیریت شي او یا وزغمل شي او پرې نښودل شي چې پر تاوتریخوالي واوړي. په دې مانا چې اختلاف هر وخت او هر ځای وي؛ مگر ستونزه هغه وخت راولاړېږي، چې اختلاف پر تاوتریخوالي بدل شي.

پر دې اساس، یوې پایدارې سولې ته د رسېدو لپاره پکار ده چې افغان لوري راتلونکي کې له ټولو اختلافاتو سره سره، د یو بل منلو ته چمتو وي او د یوه او بل د حذف خیال له ذهنه وباسي. که خبره د حذف او نه منلو وي، دا کار یوازې جگړه کله کله کولای شي؛ دا چاره د مذاکرې د مېز له وسې پورته ده. دا فرضیه هم تاریخ غلطه ثابته کړه چې موږ به په جگړه کې مقابل لوری حذف کړو او سوله به راشي. د داوود خان د حکومت په مقابل کې څو محصلینو او د پوهنتون استادانو پاڅون وکړ او پېښور ته ولاړل؛ خو وروسته همدا عادي خلک رهبران شول او یوه لویه جگړه یې رهبري کوله. طالبان په دې وتوانېدل چې په جگړه تر کابل راورسېږي، خو په پنځو کلونو کې ونه توانېدل چې پنجشیر په بشپړ ډول او د بدخشان ټولې سیمې ونیسي.

**مثبته سوله**

د سولې د مطالعاتو پلار، ناروېژنی پوه، یوهان گلټنگ د مثبتې او منفي سولې د ټرمینالوژیو پنځوونکی دی. یوهان گلټنگ وایي، یوازې د جگړې نشتون د سولې په مانا نه دی. ښایي جگړه نه وي؛ خو خلک ناراضه وي او بې عدالتي وي. دغه حالت ته منفي سوله وایي. په دې مانا چې دا پایداره نه ده او هره شېبه د تاوتریخوالي د پېښېدو احتمال شته. د دې حالت ښه مثال سوریه ده. له عربي پسرلي وړاندې سوریه یو باثباته هېواد او د منځني ختیځ له سیمه‌ییزو لوبغاړو څخه گڼل کېده؛ خو کله چې عربي پسرلی راغی، موږ ولیدل چې د سورېې سوله یې څه ډول پر وېروونکې جگړې بدله کړه.

د منفي سولې پر وړاندې مثبته سوله ده. دا هغه حالت دی چې هم جگړه نه وي او هم خلک راضي وي او عدالت وي. په غربي هېوادونو کې داسې سیاسي جوړښتونه رامنځ ته شوي چې خپل خپل ولسونه یې راضي ساتلي. له همدې امله د لوی پاڅون او انقلاب څرک پکې نه لگېږي.

زموږ د سیاسي تصمیم‌نیوونکو په ذهنونو کې لا هم د مثبتې سولې تعریف واضح نه دی. دا یوازې زموږ ستونزه نه ده، په درېیمه نړۍ کې تر ډېره همدا حال دی. اکثر واکمن فکر کوي چې په سیاسي فشار او استبداد کولای شي خپلو واکمنیو ته ادامه ورکړي؛ خو دغه وړ واکمنیو په اوږدمهال کې نتیجه نه ده ورکړې. افغانستان کې دا حالت ډېر تجربه شو.

موږ چې د یوه نوي سیاسي څپرکي په درشل کې یو، پکار ده چې د پایدارې سولې لپاره فکر او هڅه وشي. که د سولې داسې معامله وشي، چې د یوه لوري غوښتنې له اندازې زیاتې ومنل شي، یا د مقابل لوري ارزښتونه په پام کې ونه نیول شي، طبعاً د مقابل لوري پلویان ځانونه مات شوي بولي. که فرض کړو چې طالبان راشي او همدا جوړښت له سره تر پایه ومني، دا حالت هم موږ د منفي سولې خواته بیایي او یا که هر څه د طالبانو په خوښه شي، دا هم د ځینو ترمنځ ناراضایتۍ راټوکوي. موږ داسې مثبتې سولې او تلپاتې ثبات ته رسېدلی شو، چې د دواړو لوریو غوښتنې داسې ومنل شي چې هېڅ لوری ځان مات شوی ونه بولي. یا په بل عبارت، خپل ارزښتونه پکې خوندي وگڼي او له یو څه تېر هم شي.

که دغه فرصت کې یو ځل بیا د مثبتې سولې او تلپاتې ټیکاو پر ځای د منفي سولې خوا ته ولاړ شو او لنډمهاله اواری د ځان په گټه وبولو، په نږدې راتلونکي کې به خدای مه کړه له بلې جگړې سره مخ یو او بیا به تېره ترخه تجربه تکرار شي.

د یوه سوله‌ییز او باثباته افغانستان په هیله!

# محیط زیست در شهرهای بزرگ کشور حالت وخیمی اختیار نموده است

نویسنده: بسم الله ذکی

محیط زیست عبارت از محیط اطراف ماست، به خصوص شرایطی که به نحوی بر زنده گی مردم اثر گذار است. آلوده گی محیط زیست یکی از بحران های جدی و حاد فراروی زنده گی بشر در کره خاکی است که بدون توجه به آن بشر نمی تواند به یک زنده گی پاک و سالم دسترسی داشته باشد. چون محیط زیست محیط زنده گی است که با آلوده گی آن امراض گوناگونی زنده گی انسان ها را تهدید می نماید، که دومین عامل مرگ و میر در کشور نیز آلوده گی هوا گفته شده است.

در این شکی وجود ندارد که جهان در کل با مشکلات زیست محیطی مواجه است، اما افغانستان به عنوان یک کشور در حال توسعه به مشکلات حادتر و جدی‌تر مواجه است به ویژه در شهرهای بزرگ، از جمله پایتخت کشور کابل.

در حالی که یکی از حقوق اساسی و کلیدی جامعه بشری دسترسی به یک محیط پاک و سالم خوانده شده است، متاسفانه افغانستان در میان هشت کشور آلوده از نظر محیط زیست، در جهان قرار دارد. در این نبشته تلاش صورت می گیرد که به عوامل آلودگی محیط زیست در افغانستان، وضعیت اسفبار کابل، نظر دین مقدس اسلام در مورد محیط زیست و راه های بیرون رفت از این معضل پرداخته شود.

**عوامل آلوده گی محیط زیست**

در مباحث محیط زیست گفته می شود که دو نوع منابع آلوده کننده وجود دارد: منابع طبیعی و منایع مصنوعی. منابع طبیعی عبارت از آلاینده های طبیعی است که در این تحلیل مورد بحث نیست، و منابع مصنوعی به منابعی گفته می شود که در آن به شکلی از اشکال فعالیت های انسانی در آلوده سازی محیط زیست نقش اساسی دارد. هر چند عوامل آلوده کننده محیط زیست خیلی زیاد است، در این جا تلاش صورت می گیرد که به مهم ترین آنها به شکل اختصار پرداخته شود.

جنگ سر آغاز تمام بدبختی های یک جامعه است. متاسفانه بیش از چهل سال می شود که در کشور عزیز ما افغانستان جنگ جریان دارد، و این جنگ در کنار سایر بدی های که دارد بالای محیط زیست کشور نیز اثرات منفی مستقیم و غیر مستقیم فراوانی به جا گذاشته است. اثر مستقیم جنگ بالای محیط زیست این است که استفاده هر نوع اسلحه سبب آلوده گی محیط زیست می شود. از یک طرف دود و خاکش و از جانب دیگر زباله هایش. این در حالیست که دود و زباله های مواد منفجره زهری بوده و زمینه ساز بسیاری از امراض می گردد، به ویژه انواع مرض کشنده سرطان.

سوخت مواد بی کیفیت در موترها، حمام ها، هوتل ها، داش ها، بلاک های رهایشی، فابریکه های تولیدی و غیره نیز سبب آلوده گی محیط زیست گردیده است. هر چند در این میان هر کدام به اندازه قد و اندام خویش محیط را آلوده می نماید؛ اما، نقش جاهای که تیل بی کیفیت، پلاستیک، ذغال سنگ و امثالهم را می سوزانند خیلی برجسته و رنگین و مشهود است.

هر چند در عصر حاضر موجودیت صدها هزار موتر در یک شهر به ویژه شهرهای بزرگ حتمی است، تا برای مردم در عرصه حمل و نقل سهولیت ایجاد نماید؛ اما، نیاز جدی محیط زیستی است که تردد این موترها طوری تنظیم شود که از یک طرف مشکلات مردم از نظر حمل و نقل حل شود و از جانب دیگر کمترین آلوده گی را برای محیط زیست به بار بیاورد. اداره نورم و استندرد، در امر تشخیص مواد سوخت بی کیفیت، کار و فعالیت در خور توجهی نکرده است، که این امر نیز یکی از عوامل خیلی بزرگی آلوده گی محیط زیست در کشور، از جمله شهرها است.

یک بخش از آلوده گی هوا از اثر موجودیت سرک ها و جاده های خامه در شهرها است. از اینکه عبور و مرور وسایط نقلیه در شهرها بیشتر است، و این وسایط با تردد خویش گرد و خاک را به هوا بلند می کند، از این طریق سبب آلوده گی محیط زیست می گردد.

از بین بردن بی رویه ساحات سبز نیز یکی از عوامل جدی تخریب محیط زیست پنداشته می شود. چون ساحات سبز از یک طرف سبب پاکی هوا می گردد و از جانب دیگر، از جاری شدن سیلاب ها تا حدی جلوگیری می کند که خود سبب آلوده گی محیط زیست می گردد.

تخمین ها این را می رساند که در شهر کابل در حدود شش میلیون نفر زنده گی می نماید. این واضح است که موجودیت نفوس بیشتر سبب آلوده گی بیشتر می شود چه از نظر تولید گازات و چه از منظر تولید زباله ها. اگر از تولید گازات گذشته فرض را بر این بگیریم که هر نفر یک کیلو گرام زباله در روز در شهر کابل تولید کند، در هر بیست و چهار ساعت کابل شاهد تولید شش میلیون کیلو گرام زباله خواهد بود.

یکی از عوامل تخریب محیط زیست انباشت زباله ها است. امروز با پیشرفت تکنالوژی و شهر نشینی و به وجود آمدن جوامع مصرف کننده شهری، روزانه هزاران تن زباله تولید می شود که جمع آوری و دفع آنها به طریق صحی، از مهم ترین مسایل محیط زیستی است که نیاز جدی به تلاش های فردی و جمعی دارد.

در کنار تولید زباله ها، عامل دیگری که سبب آلوده گی محیط زیست گردیده است، انداختن زباله ها در جاهای غیر مناسب است، که متاسفانه در بسیاری از جاها به ویژه در شهر کابل خیلی زیاد معمول است.

عدم حاکمیت قانون نیز یکی از مشکلات جدی و حاد فراروی محیط زیست پاک و سالم است. متاسفانه در کشور ما در بیشتر موارد حتی قانون تطبیق نمی شود، اگر هم تطبیق شود یک سان تطبیق نمی شود. عدم تطبیق درست و مساوی قانون سبب گردیده که بسیاری ها نه حس ترس از قانون شکنی داشته باشد و نه هم حس مسئولیت پذیری شهروندی.

عدم موجودیت آبروها و سیستم کانالازیسیون در شهرهای بزرگ به ویژه پایتخت کشور شهر کابل، نیز یکی از عوامل کلیدی آلوده گی محیط زیست به شمار می رود. چون این امر، از یک طرف سبب شده است تا روی زمین در بسا از جاها توسط فاضلاب آلوده شود و از جانب دیگر، با کندن چاه های غیر معیاری آب های زیر زمینی که ثروت ملی کشور است نیز آلوده گردد.

از اینکه مبارزه با پدیده آلوده گی محیط زیست یک کار خیلی بزرگ است عدم هماهنگی در میان نهادهای دولتی از یک طرف و عدم تعاون نهادهای دولتی و خصوصی و مردم از جانب دیگر، در امر مبارزه با وضعیت وخیم محیط زیستی می تواند یکی از عوامل غیر مستقیم آلوده گی محیط زیست به شمار آید.

**کابل در شرایط اسفبار**

اداره محیط زیست افغانستان می گوید میزان آلوده گی هوا در پایتخت افغانستان همزمان با فرا رسیدن سرما از ۵۰ درجه غلظت به ۲۰۰ درجه افزایش یافته است. میزان آلودگی هوا در شهرهای بزرگ افغانستان به خصوص؛ کابل در زمستان به دلیل استفاده گسترده از ذغال سنگ و چوب برای گرم کردن خانه ها، به شدت بالا می رود.

کابل به عنوان پایتخت افغانستان که در حدود نیم قرن پیش یکی از شهرهای پاک و زیبای منطقه به حساب می آمد، متاسفانه حالا در میان شهرهای بزرگ کشور، از نظر آلوده گی هوا و زمینش همه را پیشی گرفته است. در این حال نه دولت افغانستان نسبت به مشکل زیست محیطی کابل توجه قابل لمسی می کند و نه هم اکثریت قاطع شهروندان پایتخت نشین فرهنگ شهرنشینی را در عرصه پاک و صفایی رعایت می نماید. اگر وضع به این حالت پیش برود و توجهی جدی در این عرصه نشود، احتمال می رود که در آتیه کابل محل زنده گی برای باشنده گانش نباشد.

گفته می شود که در کابل ۶۴۰ هزار خانه وجود دارد و در حدود ۶۰۰ هزار موتر در سرک های شهر کابل عبور و مرور می نماید؛ اگر هریک واحد روزانه یک کیلو گرام گاز مضر تولید کند در هر روز می شود دوازده میلیون و چهل هزار کیلو گرام که فاجعه است. در این شکی وجود ندارد که تقریباً اکثریت این خانه ها و موترها از مواد سوخت بی کیفیت استفاده می نمایند.

**نقش تعلیمات اسلامی در حفاظت از محیط زیست**

خوشبختانه دین اسلام در موارد چون حفظ آب، حفظ خاک، نظافت، زنده گی بالای زمین، ترحم بر حیوانات و حفظ دیگر نعمت های خداوند متعال که همه معنی حفاظت از محیط زیست را می دهد، تذکراتی شیوایی دارد، در حدیث شریف آمده است: «هر مسلمانی درختی بکارد، یا زراعتی کند، که از آن پرنده گان و یا حیوانی بخورد، چنین کاری برای او صدقه محسوب می شود.»

در اسلام جان آدمی با ارزش است و حفظ آن واجب. بر همین اساس قرآن کریم به زبان ساده به مسلمانان سفارش می کند که با کارهای خود سبب هلاکت و نابودی خود را فراهم نکنید. بنا بر این، از نظر شرعی جواز ندارد که یک مسلمان با تخریب محیط زیست زمینه هلاکت خود و دیگران را مساعد کند. ضرر رساندن به خود و دیگران حرام است، که این مفهوم شیوای از حدیث پیامبر گرامی اسلام صلی الله علیه و سلم می باشد.

ترجمه حدیث شریف است که می فرماید: «اگر قیامت برپا شد و نهالی در دست یکی از شماست، اگر می تواند آن را بکارد.»

**راه حل ها**

در قدم اول دولت افغانستان یک برنامه جامع، علمی، مؤثر و قابل سنجش را با استفاده از تجارب کشورهای دیگر و مشوره های متخصصان امور در رابطه به حفاظت از محیط زیست در شهر ها، طراحی کند.

اداره نورم و استندرد، با بروز سازی فعالیت های خویش از ورود تیل، ذغال سنگ و سایر موارد سوختی دیگر، در داخل کشور جلوگیری نماید.

توسط ریاست ترافیک افغانستان از تردد موترهای فرسوده که مقدار زیاد دود تولید می کند، جلوگیری شود. و درصورت امکان با مستمندان در امر خریداری مواد سوخت با کیفیت در فصل سرما مساعد صورت گیرد.

کسانی که زباله ها را در جاهای مناسب نمی اندازد جریمه شود. سیستم جریمه در صورت تکرار طور تصاعدی باشد. تا حس ترس و مسئولیت پذیری در بین جامعه زنده گردد.

سطح آگاهی جامعه نسبت به مسایل زیست محیطی بالا برده شود. این کار را می توان از طریق رسانه ها، مکاتب، مدارس، پوهنتون ها، مساجد، منابر و امثالهم انجام داد.

در بودیجه مبارزه با آلوده گی زیست محیطی افزایش به عمل آمده و انسجام همگانی در امر مبارزه با این پدیده شوم و خطرناک بوجود آورده شود.

ساحات سبز جدید احداث گردیده و ساحات سبز قدیمی احیاء و تقویت گردد.

فرهنگ حشر (کار جمعی بدون مزد) بخاطر پاک سازی شهر ها و اماکن عامه یک بار دیگر احیا گردد. و نیز سیستم کانالازیسیون شهرهای بزرگ به ویژه کابل به شکل اساسی ساخته شود.

در طویل المدت و در صورت امکان سیستم تسخین خانه های کابل برقی ساخته شود و یا از انرژی های بدیل استفاده شود.

# د کرونا وژونکې څپه؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا له کبله د مړو شمېر نږدې دوو میلیونو کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۸۹ میلیونه او ۴۷۵ زره او ۸۴۶ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۹۲۴ زره او ۴۸۲ کسان مړه شوي او له ۶۴ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۲ میلیونه او ۴۶۱ زره او ۶۹۶ ته رسېدلي او ۳۷۸ زره او ۲۰۴ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۴۳۳ زره او ۵۴۹ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۱۵ زره او ۹۲۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د دری میلیونه او ۳۷۹ زره او ۱۰۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېتانیا د دوه میلیونه او ۹۵۷ زره او ۴۷۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

له دې سره هممهاله د نړۍ په ځینو هېوادونو کې د کرونا ویروس ضد واکسین د وېش پروسه پیل شوې ده، خو د ایران مذهبي مشر ایت الله خامنه‌یي په یوه تلویزیوني بیان کې په امریکا او برېټانیا کې د کرونا ضد تولید شویو واکسینونو کارول په ایران کې بند کړل.

خامنه‌یي وایي چې په دغو دواړو هېوادونو باور نه لري او په خبره یې، دوی ډېری وختونه خپل تولید شوي واکسینونه په نورو هېوادونو کې ازمایي. دا په داسې حال کې ده چې د تازه شمېرو په اساس، په ایران کې تر دې دمه د کروناویروس له کبله له ۵۶زرو ډېر کسان مړه شوي او څه باندې ۱.۲ میلیون نور په دغه ویروس اخته شوي دي.

تر دې مخکې ایراني چارواکو ویلي وو چې ایران ته به د «فایزر» کرونا ضد واکسین انتقال ستونزمن وي، ځکه چې د هغوی په وینا، دا واکسین باید د سانتي ګراد په ۷۰- درجه حرارت کې وساتل شي.


خامنه‌یي وویل چې ایران کولی شي له نورو ډاډمنو هېوادونو څخه واکسین ترلاسه کړي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
**کابوکي**




دولت: خو ښاغلیه! د پاکستان او هند تر منځ اساسي ستونزه کومه ده؟ ستاسو جګپوړی استازی په «چندیګړ» کې و، ویل یې چې د پاکستان او هند د ستونزې په تړاو ناسم پوهاوی کېږي.چې ښېخي پوهاوی نه وي، نو ناسم پوهاوی له کومه شو؟
دورانی: ښایي رښتیا وي، سخته ده سړی څه نه شي ویلی. ایا پارټېشن (وېش)؟ دا کیسه خو له زر کاله پخوا نه ده را پیل شوې؟ کېدای شي لویه ستونزه دا وي چې دواړو خواوو ته اسټېلېشمېنټ د ناڅاپي پرمختګ او یا ښنسټي بدلون منلو ته تیار نه دي؟ یا داسې خو نه ده چې موږ په بدلو لارو مزل کړی دی، اوس که خپل مسیر بدلوو، نو ښایي حالت داسې خراب کړي چې کابو کول یې زموږ له وسه وتلې خبره وي؟
پخوا به را ته دا خبرې ښېخي فلسفي ښکارېدې؛ خو د وخت په تېرېدو سره سړی خپلې فرضیې رغوي او ځان ته اصول ټاکي. لویې طرحې پرېږدي، ترلاسه کېدونکي اهدف ټاکي او ګوري چې د وخت په تېرېدو سره یې څه لاس ته ورځي؟
خو ګام په ګام تکتیکي مخکې تلل، د چارو سمبالول، په اصل کې په حالت کې یو عام بدلون راولي. هغه عناصر به ستا په کنټرول کې نه وي چې د یوه مشخص لوی هدف تر لاسه کېدو لپاره ضروري وي.
ډېرې خبرې شته چې له هند سره په دوستۍ کې به مخ ته راشي.یو مشخص لوی ګام دا و چې د خبرو اترو له یوه مرکب چوکاټ سره موافقه شوې وای.
تاسو یو ګام واخیست، خو له ماتې سره مخ شوی. حالات مو بیا کابو کړل، څلور، پنځه کاله وروسته درته «واجپای» وایي، سمه ده سولې ته یوه بله موقع هم ورکړئ. حرکت پیلېږي، تله راتله شروع شي، خو «مومېنټم» کله هم نه دی جوړ شوی. موږ کله هم داسې پړاو ته نه یو رسېدلي چې و دې ویلی شو چې موږ له دې څلورو خبرو په یوې عمل کوو، له دې سره به بدلون راشي، له دې سره به پروسه دوام ومومي، که نه نو بدلېدونکي حالت ته نه رسېږي.
سېنها: ستاسو په اند ستونزه کومه ده؟
دولت: زر کاله وړاندې تلل، په تاریخ کې ډېر وړاندې تلل دي. وېش پکې برخه لري، پر زړونو یې داغونه پرېیښي دي. د پنجاب د سرحدي سیمو د خلکو په ذهنونو کې د وېش ترخې خاطرې پاتې دي. کله چې له پاکستان سره د ښو اړیکو خبره کېږي، نو دوی وایي؛ له چا سره ښې اړیکې؟
بله خبره چې دا اړیکې پسې ترلې دي، دا ده چې واک له چا سره دی؟ لکه مخکې مې چې وویل، تر ډیلي بهر د پاکستان پر خلاف دښمني ډېره نه ده. خپله ډیلی له پاکستانه کانګې وهي، ان د هغو خلکو پر وړاندې هم چې دلته اوسېږي، د واک په مرکز کې اوسېدل اسانه خبره نه ده.
اساسي ستونزه بې اعتمادي ده. دا بې اعتمادي له پخوا راهیسې را روانه ده، ځکه د هند نیمه لویه وچه ووېشل شوه، پاکستان پر دې خوابدی و چې کشمیر دې له هند سره پاتې شي، پر کشمیر برید وشو او کشمیر په دوو برخو ووېشل شو.
زموږ تر منځ د «جبل الطارق عملیات» (د ۱۹٦۵ جګړه) شوې، ورپسې په ۱۹۷۱ کال کې جګړه شوې ده. تر اوسه هم کیسه هماغسې پاتې ده، بس یو بل ته په کمین کې ناست یو.
زما په اند په ۱۹۷۵ کال کې د شیخ عبدالله او ډیلي یا مېرمن ګاندي تر منځ سوله وه چې یو څه یې حالت ارام کړ. مېرمن ګاندي د سولې په خبرو کې جدي وه. خو د ۱۹۷۱ کال له جګړې را وروسته ورته پاکستان ډېر مهم نه و.
«موراجي ډیسای»، «چندرا شېکر» او «ګجرال صېب» درې واړو له زړه کار کاوه، خو لکه «ماني ډېکشېټ» ډېر پاتې نه شول. د هند په خوا کې داسې غټ نوم نه وینو چې د مذاکراتو خبره یې کړې او پاکستانیانو ته ور غاړې وتی وي، تر دې چې واجپای راغی. هغه د بېل نظر خاوند و، د اهلیت او صلاحیت خاوند و، همېشه یې نظر دا و چې نور باید د دې لېونتوب جملې ته د پای ټکی کېښودل شي. له پاکستان سره ډغرې وهل بې مانا کار دی.«منموهن سېنګ» هم «پنډت نهرو» پر خپل ځای پرېښود، نهرو ډېرې هڅې وکړې، خو یوې هوکړې ته و نه رسېد.
سېنها: کوم هندي مشران د پاکستانیانو په زړونو کې ډېر ځای لري؟
دورانی: یو څو د ګوتو په شمېر دي. لومړی هغه یې «ډیسای» و. زما له انده له سیمې بهر قوتونو (ډېر کله د دغسې کارونو تر شا د امریکا لاس وي.) غوښتل چې دی د «ذوالفقار علي بوټو» په مخه کې خنډونه جوړ کړي؛ ځکه هغه له اټومي پروګرامه، نه لاس په سر کېده. خو ده نه یوازې دا چې دغه کار رد کړ، بلکې و یې ویل چې په سیمه ییزو مسئلو کې د بهرنیو قدرتونو لاسوهنه به دا مسئلې پر یوه ناورین واړوي. بیا ورپسې «چندرا شېکر» دی. دی که څه هم لنډ وخت لومړی وزیر و، خو په همدې څو میاشتو کې یې زموږ دوه اړخیزې اړیکې ژورې و ارزولې. ده چې پر هره موضوع خبرې کولې، سړي ته به یې خوند ورکاوه. **دوام لري...**

# اریا پوهنتون

حمیدالله حمیدي



اریا پوهنتون چې په شمال زون کې د لومړنیو خصوصي تحصیلي بنسټونو له ډلې څخه شمېرل کېږي، د بنسټ ډبره یې په مزارشریف ښار کې د ۱۳۸۷ کال په دوبي کې اېښودل شوې ده. د دغه پوهنتون د علمي چارو مرستیال او د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي علمي کادر، سمیع روحان په وینا، یاد پوهنتون په لومړیو کې د دریو پوهنځیو (طب، حقوق او سیاسي علومو او اقتصاد) په درلودلو سره پر فعالیت پیل وکړ چې د نوموړي په وینا، د مزارشریف او څېرمه نورو ولایتونو د اوسېدونکو د غوره هرکلي په پایله کې یاد پوهنتون هڅه وکړه، څو د خپلو پراختیایي پروګرامونو په لړ کې ځینې نور پوهنځي هم رامنځته کړي. دی وایي، له نېکه مرغه موږ په ۱۳۹۰ کال کې بریالي شوو څو اریا پوهنتون ته له لوړو زده کړو وزارت څخه د دوو نورو پوهنځیو (انجنیري او کمپیوټر ساینس) جواز تر لاسه کړو او په همدې کال یاد پوهنتون د همدې پوهنځیو په برخه کې خپل فعالیت پیل کړ.
د دغه پوهنتون علمي مرستیال وایي، انجنیري پوهنځی یې یو ډیپارټمنټ (سېول)، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي)، اقتصاد پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه (اداره او تجارت او د محاسبې د مدیریت اداره)، کمپیوټر ساینس پوهنځی یې یو ډیپارټمنټ (BCS) او طب پوهنځی یې هم یو ډیپارټمنټ (عمومي معالجوي) لري.
ښاغلی روحان وایي، اریا پوهنتون د هغو محصلینو په ګډون چې د کانکور ازموینې له ورکړې وروسته یې په دغه پوهنتون کې نوملیکنه کړې ده، ټول ۳۳۰۰ محصلین لري. هغه زیاتوي چې په ټوله کې اریا پوهنتون کې ۳۳٪ ښځینه زده کوونکې او پاتې نور یې نارینه محصلین جوړوي.
نوموړی وایي، د ماسټرۍ د پروګرام په برخه کې یې په ۱۳۹۲ کال کې د خپلو فعالیتونو طی مراحل له ولسمشرۍ مانۍ او اړوندو نورو ادارو څخه پای ته ورسول، خو دا چې د ملي وحدت حکومت له تشکیلېدو وروسته د ماسټرۍ د پروګرامونو لړۍ وځنډېده، له همدې امله مو د ماسټرۍ د پروګرام چارې له پرمختګ څخه پاتې شوې، خو له ۱۳۹۸ کال راپدېخوا مو د ماسټرۍ د پروګرام په برخه کې خپلې هڅې پیل کړې دي او هیله من یو چې په دې برخه کې به هم ډېر ژر خپل فعالیت پیل کړو او د ماسټرۍ په برخه کې هم محصلین جذب کړو.
د ښاغلي روحان په خبره، اریا پوهنتون په مختلفو دورو کې فارغین ورکړي دي چې ځینو پوهنځیو یې تر دوولسو-دیارلسو دورو او ځینو نورو یې بیا د درسونو د پیل نېټې ته په کتو تر اتو یا نهو دورو پورې فارغین ورکړي دي چې په ټوله کې یې تر اوسه له خپلو پنځو پوهنځیو څخه ۳۲۰۰ محصلین فارغ کړي دي.
ښاغلی سمیع روحان وایي چې په وروستیو کلونو کې د هېوادوالو اقتصادي ستونزو او د لوړو زده کړو وزارت لایحې ته په کتو چې د لوړو زده کړو موسسو ته یې د محصلین د ډېر جذب په برخه کې معیارونه ټاکلي دي، د هغوی په نوو جذب کېدونکو محصلینو کې هم توپیر راغلی دی. دی وایي چې په منځنۍ کچه اریا پوهنتون خپلو مختلفو پوهنځیو ته هر کال له ۸۰۰ تر ۱۰۰۰ کسانو پورې محصلین جذبوي او په همدې ترتیب هر کال شاوخوا له ۵۰۰ تر ۷۰۰ محصلین فارغوي.
اریا پوهنتون د بې وزله، ممتازو او هغو محصلینو لپاره چې له یوې کورنۍ څخه دوه یا درې تنه په یاد پوهنتون کې زده کړې کوي، ځانګړی تخفیف په پام کې لري. داسې چې له یوې کورنۍ څخه دوه یا درې تنه نوملیکونکو او بې وزله محصلینو ته ۲۰٪ تخفیف ورکوي، همدارنګه هغه کسان چې په دولتي کانکور ازموینه کې خصوصي پوهنتونونو ته واجد شرایط ګڼل شوي دي، ځانګړی تخفیف لري.
ښاغلی روحان وایي، اریا پوهنتون محصلینو ته د لا ډېرو اسانتیاوو د برابرولو په لړ کې ډېر فعالیتونه تر لاس لاندې لري، چې له هغې ډلې یې کتابتون، لیلیه، لابراتوار او د څېړنو مرکز ته اشاره کولای شو. دی زیاتوي چې اریا پوهنتون د مجهز کتابتون لرونکی دی چې یاد کتابتون د پوهنتون په محوطه کې د ننه قرار لري او لسګونه زره جلده کتابونه پکې شته. نوموړی وایي چې محصلین یې ډېر لږ د ښار کتابپلورنځیو او کتابتونونو ته د مطالعې او مالوماتو د لاسته راوړلو لپاره اړ کېږي. دی وایي چې اریا پوهنتون په پلان کې لري څو په ۲۰۲۱ کال کې د پوهنتون د ننه د کتابتون او د څېړنو د مرکز لپاره یوه ځانګړې ودانۍ تاسیس کړي، چې په دې سره به د څېړنیز مرکز او مطالعې په برخه کې شته ستونزې په بشپړه توګه له منځه لاړې شي.
روحان زیاتوي، اریا پوهنتون په هېواد کې د ننه او له هېواده د باندې له ډېرو خصوصي او دولتي روغتونونو، علمي مرکزونو او پوهنتونونو سره اکاډمیکې اړیکې لري. له دې ډلې له هېواده د باندې په ترکیه، هندوستان، امریکا، کاناډا، تاجکستان او قبرېس هېوادونو کې له ډېرو کدري بنسټونو سره اړیکه لري چې محصلین یې په فعال ډول هم پخوا او هم اوس د خپلو زده کړو د دوام او تجربو د تر لاسه کولو لپاره هلته تللي دي. پر دې سربېره، د هېواد د ننه له بلخ پوهنتون، په خوست کې د زمزم له لوړو زده کړو موسسې او همدارنګه په ننګرهار، پکتیا او نورو ولایتونو کې له ډېرو علمي مرکزونو او پوهنتونونو سره اکاډمیکې اړیکې لري. نوموړی زیاتوي چې په راتلونکې کې هم هڅه کوي څو په یاده برخه کې خپلو اکاډمیکو اړیکو ته لا پراخوالی ورکړي او وشي کولای چې محصلینو ته هر اړخیز علمي او ښوونیز فرصتونه برابر کړي.
د ښاغلي روحان په خبره، اریا هغه لومړنی خصوصي پوهنتون دی چې د لوړو زده کړو وزارت په کتاب کې یې د خصوصي پوهنتونونو په کچه ډیپلوم ثبت شوی دی او همدارنګه د شمال زون په کچه اریا پوهنتون هغه لومړنی پوهنتون دی چې لوړو زده کړو وزارت ورته د ډیپلومونو د توضع اجازه ورکړې ده چې تر اوسه یې د یاد وزارت له لوري شاوخوا ۱۵۰۰ ډیپلومونه تر لاسه کړي او توضع کړي دي. همدارنګه د دویمې دورې د ډیپلومونو او اسنادو لړۍ تر کار لاندې ده چې په نږدې راتلونکې کې به یې فارغو محصلینو ته د توضع پروسه پیل شي.
سمیع روحان وایي، اریا پوهنتون د محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه ډېر امکانات تر لاس لاندې نیولي، چې له هغې ډلې انلاین ښوونیز سیسټمونه، د مدیریت انلاین پروګرامونه، برېښنایي زده کړې او داسې نور یادولای شو. همدارنګه مو د انلاین حاضرۍ، انټرنېټي زده کړو او مطالعې، لیلیې، ارامې او ښې فضا، د پوهنتون د دایمې ودانۍ، وړیا ټرانسپورټ او داسې نورو اسانتیاوو په پام کې نیولو سره هڅه کړې ده څو محصلینو ته هغه امکانات برابر کړو، چې د غوره زده کړو لپاره ورته اړتیا لري.
ښاغلی روحان وایي، د پوهنتون په اړه مو راتلونکي پلانونه دا دي څو اریا پوهنتون په ملي او نړیواله کچه له نېک شهرت څخه برخمن کړو او تر څنګ یې غواړو چې په خپل پوهنتون کې د ماسټرۍ او دکتورا د پروګرامونو لپاره د اړتیا وړ ټولې اسانتیاوې برابرې کړو.
ښاغلی روحان زیاتوي، لکه څرنګه چې څرګنده ده په اوسنیو شرایطو کې په ځانګړې توګه علمي او اکاډمیک مرکزونه ډېر کله له امنیتي ګواښونو سره مخ دي، د خصوصي پوهنتونونو د اسنادو، د نوو استادانو د تقرر او داسې نورو پروسو د طی مراحل کولو لړۍ ډېر کله له ځنډ سره مخ کېږي، نو که څه هم لوړو زده کړو وزارت په دې وروستیو کې په یادو برخو کې د پام وړ فعالیتونه او پرمختګونه کړي دي، خو بیا هم له یاد وزارت او اړونده ادارو هیله لرو څو د طی مراحلو په لړۍ کې لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړي او په ځانګړې توګه خصوصي پوهنتونونو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

اقتصاد

## د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۳,۵۰ |
| Rp. | ۴۷۹ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۱۰۳ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166


# د امریکا او افغان حکومت کشمکش؛

## شنونکي: ښکاري چې ولسمشر ته د موقت حکومت د جوړولو پیغامونه رسول شوي




په دې وروستیو ورځو کې ولسمشر غني د موقت حکومت له جوړېدو سره د مخالفت خبره کړې ده او ټینګار کوي چې یوازې د ټاکنو او ولس په خوښه بل ولسمشر ته واک پرېږدي. ولسمشر غني په دې اړه دوه ځله څرګندونې کړې دي، یو ځل په ننګرهار کې د وینا پر مهال او دویم ځل له سي ان ان سره په یوه تازه مرکه کې.
د چارو شنونکي بیا وایي، د ولسمشر له تازه څرګندونو داسې ښکاري چې هغه ته د موقت حکومت پیغام رسېدلی دی او ښايي په خپل دریځ کې یوازې پاتې شي. طالبانو هم ویلي چې د مذاکراتو په دې پړاو کې پر راتلونکي حکومت هم بحثونه کېږي.
وروسته تر هغه چې په دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه، په هغه کې یوه مسئله په افغانستان کې د نوي اسلامي حکومت د جوړېدو هم یاده شوې ده. له همدې وروسته داسې ګنګوسې خپرې شوې چې ښايي دلته یو موقت حکومت جوړ شي او هغه به د واک په لېږد او د راتلونکي حکومت جوړولو ته زمینه برابروي. په وروستیو ورځو کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد هم کابل ته راغلی و، خو ولسمشر غني ورسره له لیدنې ډډه کوله. د چارو شنونکي او د مسایلو څارونکي په دې باور دي چې ښايي خلیلزاد به د موقت حکومت په اړه له ولسمشر غني سره خبرې کولې. د چارو شنونکی عبدالشکور دادرس وايي، د امریکا په ګډون ټوله نړۍ په افغانستان کې له جګړو ستړې شوې ده. د ده په خبره، دوی له هرې لارې چې وي هڅه کوي څو په افغانستان کې جګړه پای ته ورسوي او د یوه نوي حکومت راتګ ته زمینه برابره کړي. هغه وايي، دا خبره تر لمر روښانه ده چې امریکا هم په افغانستان کې د سولې لپاره د یوه نوي حکومت ملاتړې ده. هغه وايي: «د دوحې په هوکړه کې واضح راغلي چې د یوه نوي حکومت د جوړېدو لپاره به کار کېږي. طالبان یې اسلامي حکومت بولي، خو په ټوله کې په دې مانا ده چې امریکا هم د نوي حکومت ملاتړې ده.»
دادرس همدا راز وايي افغان حکومت پخپله د امریکا او طالبانو د هوکړه لیک تر منځ د ګډې اعلامیې د خپرولو له لارې ملاتړ کړی دی او امریکا هم دا غواړي چې جګړه ختمه شي. هغه زیاتوي، امریکا هم د جګړې د ختمولو لپاره پښې لوڅې کړې دي، نو له همدې امله یې یو پیاوړی هیئت افغانستان ته رالېږلی و چې ولسمشر غني ورسره له لیدنې ډډه کړې ده. هغه زیاتوي: «د امریکا یو ډېر پیاوړی پلاوی راغلی و، له نورو سیاسي څېرو سره یې ولیدل او هلته یې د موقت حکومت د جوړېدو خبره کړې ده. دوی غواړي چې انتقالي حکومت ته دې زمینه برابره کړي څو جګړه پای ته ورسېږي.»
دادرس دا هم وايي چې ولسمشر غني ښايي د واک د ساتلو لپاره جګړې ته ادامه ورکړي. د ده په خبره، د ولس او نړیوالو اراده دا ده چې نور دلته روانه جګړه ختمه کړل شي او که ولسمشر غني د ولس له ارادې سره مخالفت کوي، نو یوازې پاتې کېږي. هغه وايي: «نړیوال او افغانان په دې باور دي چې نور باید جګړه پای ته ورسول شي. د ولسمشر غني ټینګار به یوازې ده ته زیان ورسوي، دی به په دې کار کې یوازې پاتې شي او زیان به یې هم یوازې ده ته وي.»
د سیاسي او حقوقي مسایلو شنونکی عبدالستار سعادت هم وايي، که د حکومت رهبري پر خپل دریځ ټینګار کوي، نو د دې احتمال شته چې په هېواد کې کورنۍ جګړه پیل شي. دی زیاتوي چې موقت حکومت د اړتیا په صورت کې د افغانستان د راتلونکې او ثبات لپاره غوره لار ده او حکومتي مشرانو ته پکار ده چې تر خپلو ګټو د هېواد ګټو ته لومړیتوب ورکړي. د ده په خبره: «که زمونږ رهبري خپلې شخصي ګټې تر افغانستانه مقدمې وګڼي، بیا د سقوط احتمال شته او په یو بل ډول د کورنیو جګړو د پیلېدو خطر موجود دی. اوسنی حکومت په غیر ملي اجنډاوو غواړي تېر تاریخ تحریف کړي، خلک وډار کړي او خپل سوله ضدي سیاست ته مشروعیت ورکړي.»
له دې ټولو سره سره ولسمشر غني وايي چې دی به واک یوازې د خلکو په خوښه ټاکل شوي ولسمشر ته وسپاري. ولسمشر له سي ان ان سره په خبرو کې ویلي دي: «له ټاکنو پرته بل چا ته واک نه لېږدوم».
بلخوا په دوحه کې بین الافغاني خبرې روانې دي. افغان حکومت وايي چې اوربند دوی ته لومړیتوب دی او طالبان بیا ټینګار کوي چې د راتلونکي حکومت جوړښت هم د خبرو برخه ده او بحثونه به وربانديې کېږي.

## <u>طالبان:</u> د راتلونکي نظام په اړه باید د دوحې په خبرو کې پرېکړې وشي



طالبان وايي، د افغانستان د راتلونکي نظام او د واک لېږد په اړه باید په دوحه کې د خبرو په لړ کې پرېکړې وشي.
د طالب پلاوي یو شمېر غړو ویلي چې په افغانستان کې د راتلونکي نظام بڼه، د دوی د بندیانو خوشي کېدل او د ملګرو ملتونو له تور لېسته د طالب چارواکو د نومونو ایستل یې د اجنډا لومړیتوبونه دي. طالبانو دا څرګندونې د ولسمشر غني د هغې خبرې په ځواب کې کړې، چې ویلي یې دي، یوازې د ټاکنو له لارې د واک لېږد ته چمتو دی.
دا په داسې حال کې ده چې په دوحه کې د افغان سولې خبرو پر اجنډا دویم پړاو بحثونه تېره ورځ بیا پیل شول. لا تر اوسه د سولې د دغو خبرو اجنډا مالومه نه ده، خو مخکې د دواړو پلاوو ځینو غړو د اجنډا د موضوعاتو په اړه په بېلابېلو غونډو کې خبرې کړې دي. افغان پلاوی وايي، اوربند یې د اجنډا په سر کې دی او طالب پلاوي بیا ویلي، د اجنډا لومړی موضوع یې په افغانستان کې د نظام بڼه ده.
په ورته مهال په دوحه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي او طالبانو ترمنځ بحثونه پیل شوي دي. د ملي مصالحې عالي شورا ویاند فریدون خوځون له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې دا اساسي بحثونه پرون په دوحه کې د افغان مذاکراتي پلاوي او طالبانو ترمنځ پیل شوي دي. خوځون په دې اړه تر دې ډېر معلومات نه دي ورکړي.
د یادونې ده چې افغان پلاوی ټینګار کوي چې په دې پړاو مذاکراتو کې باید اوربند رامنځ ته شي، خو داسې ښکاري چې طالبان به تر اوربند وړاندې د حکومت پر جوړښت او د واک پر لېږد بحثونه ولري. طالب سرچینو رسنیو ته ویلي، چې راتلونکی حکومت د بحث مهمه موضوع ده.

## <u>صالح:</u> هغه کسان نیول شوي چې د حکومتي کسانو او مدني فعالانو په وژنه کې یې لاس درلود



د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح وايي چې په افغانستان کې د ازادو ټاکنو بنسټ د اجرایوي رییس یوسف رشید او یوه پیلوټ د وژنې په تور درې کسان نیول شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ اجرایوي رییس یوسف رشید د روان کال د مرغومي په دربیمه په یوه وسله وال برید کې له خپل موټر چلوونکي سره یو ځای او د افغانستان هوايي ځواکونو پیلوټ غلام دستګیر تېره پنجشنبه په کابل ښار کې وژل شوي دي.
د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح پر خپله فېسبوک پاڼه لیکلي، له هغو دریو کسانو چې په مستقیم ډول د یوسف رشید په وژنه کې ښکېل او تثبیت شوي وو، دوه یې نیول شوي دي.
د نوموړي په خبره، په دې اړه به جزیات ملي امنیت او د کورنیو چارو وزارت خپاره کړي، خو د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق ارین وايي، نیول شوي درې کسان او نور چې په دې قضیه کې لاس لري، د امنیتي سرتېرو تر تعقیب لاندې دي.
د یادونې ده چې پر یوسف رشید د برید مسوولیت تر اوسه کومې ډلې نه دی منلی او طالبانو ویلي چې د دوی موخې مشخصې «د دښمن نظامي هستې او کسان» دي، خو خبریالان، مدني فعالان او نور سیاسي کسان د دوی په نظامي موخو کې نه دي شامل.
صالح زیاته کړې، د هېواد هوايي ځواک پیلوټ جګړن غلان دستګیر د وژلو په تور د حبیب په نوم یو کس چې پر غورځنګ مشهور دی، نیول شوی دی.
د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د مدني فعالانو او خبریالانو د ترور پېښې زیاتې شوې او په تېرو شاوخوا دوو میاشتو کې اووه خبریالان او یو شمېر مدني فعالان وژل شوي دي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي ۲۱مه | د ۲۰۲۱ د جنوري لسمه | ٦٦٠مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۳ | ۷ | ۸ | ۱۹ | ۷ |
| -۳ | -۵ | ۰ | ۱ | ۲ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:۲۳ | ماښام ۰۵:۰۱ | ماخوستن ۰۶:۳۰

## آمارها: در یک‌سال اخیر ۴۵هزار خانواده در نتیجه جنگ‌ها در کشور بیجا شده‌اند



برنبیاد آمارهای وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث طبیعی، در یک ماه اخیر ۱۸ هزار خانواده در نتیجۀ جنگ‌ها در کشور بیجا شده‌اند.

آمارهای این وزارت نشان می‌دهند که در یک‌سال اخیر چهل و پنج‌هزار خانواده در نتیجه خشونت‌ها در کشور بیجا شده‌اند. بغلان، کندز، هرات، فراه، غور و ارزگان، از ولایت‌هایی استند که در یک‌ماه چنین بیجاشدن‌ها را گواه بوده‌اند.

مسؤلان وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث طبیعی نگران استند که با ادامه این جنگ‌ها کار مددرسانی به این بیجاشده‌گان و نیز بیجاشده‌گان رویدادهای طبیعی به مشکل برخواهد خورد.

احمد تمیم عظیمی، سخن‌گوی وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث گفت: «اگر وضعیت شکننده شود و جنگ‌های داخلی دوام پیدا بکند، روند کمک‌رسانی را به چالش مواجه می‌سازد.»


از این میان، جنگ‌های چند روز اخیر در پیرامون شهر کندز و برخی از ولسوالی‌های این ولایت، یک‌بار دیگر خانواده‌هایی را بیجا ساخته‌اند. بیجاشده‌گان از طرف‌های درگیر می‌خواهند که از جنگ دست بکشند: «به آنش هم عذر می‌کنم و به اینش هم عذر می‌کنم: ای برادر، جنگ نکنید! بمانید ما را که از آبله دست خود پیدا کنیم یک لقمه نان حلال. تا به کی دهن این دروازه برویم، دهن آن دروازه برویم؟ بس است به خدا برای ما، بس است!»

وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث می‌گوید که احتمال بیجاشدن بیست و پنج‌هزار خانواده را در جنگ‌های زمستان امسال و چگونه‌گی رسیده‌گی به نیازهای این خانواده‌ها را در نظر گرفته است.

## نړۍ




## راپورونه: د یوې اندونیزیایي مسافر وړونکې الوتکې د نسکورېدو په پېښه کې ۵٦ کسان مړه شوي




د راپورونو له مخې، د یوې اندونیزیایي مسافر وړونکې الوتکې د نسکورېدو په پېښه کې ۵٦ کسان مړه شوي دي.

د یاد هېواد سي این بي سي شبکې ویلي، چې دا بوینګ-۷۴۷ ډوله الوتکه له هوایي ډګر څخه تر پرواز وروسته له رادار څخه ورکه شوه او د هند په اقیانوس کې غورځېدلې ده.

په ورته مهال اندونیزیایي چارواکو ویلي چې دا الوتکه له جاکارتا پر جاوا سمندرګي د اندونیزیا په بیرنیو ټاپو کې کالي-مانتان ته روانه وه.

د راپورونو له مخې، دا الوتکه په اوبو کې لوېدلې او پکې سپاره ټول مسافر مړه شوي دي. چارواکو دغه راز ویلي چې د الوتکې د نسکورېدو د علت په اړه یې څېړنې پیل کړې دي.

دوی ویلي، چې لاهم په دې نه دي توانېدلي چې د الوتکې ټوټې او د مسافرو جسدونه له اوبو راوباسي. چارواکو پر نورو هېوادونو هم غږ کړی چې په دې برخه کې دې ورسره مرسته وکړي.

د یادونې ده چې تر دې مهاله دا نه ده په ډاګه شوې چې په الوتکه کې سپاره کسان یوازې د اندونیزیا تبعه دي او که نور بهرنیان هم پکې شامل وو.

## ټرمپ: د نوي ولسمشر په توګه د جو بایډن د لوړې په مراسمو کې ګډون نه کوم

د امریکا اوسني ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې د جنوري په ۲۰مه به د نوي ولسمشر په توګه د جو بایډن د لوړې په مراسمو کې ګډون ونه کړي. دا به څلورم ځل وي چې د امریکا په تاریخ کې تلونکی ولسمشر د خپل ځایناستي د لوړې په مراسمو کې ګډون نه کوي.


په ورته مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پومپیو په یوه ټویټ کې ویلي چې له منتخب ولسمشر جو بایډن او د بهرنیو چارو وزارت له راتلونکي نوماند انتونتي بلینکین سره یې لیدلي او د سوله‌ییز واک د انتقال په تړاو یې ورسره خبرې کړې دي.

پومپیو ویلي چې د لیدنې موخه یې دا وه چې د واک منظم انتقال اسانه شي او دا یقیني شي چې په بهر کې د امریکایانو ګټې خوندي وي. د هغه په خبره، لیدنه یې ډېره رغنده وه او د انتقال په بهیر کې به د امریکا په استازیتوب ګډ کار ته دوام ورکوي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د برحاله ولسمشر ډونالډ ټرمپ پلویان تېره چهارشنبه د کانګرېس په ودانۍ ور ننوتل او له پولیسو سره په نښتو کې څلور تنه ووژل شول.


## ژوند

## ال جي خپل نوي لپټاپونه معرفي کړل




ال جي کمپنۍ د ګرام لړۍ نوي لپټاپونه چې د مخکنیو هغو په پرتله غوره او پیاوړې ځانګړنې لري، معرفي کړل. دغه لپټاپونه د ډېر کم وزن لرلو له امله ځانګړې مینه‌وال لري. دغه لپټاپونه د اینټل Evo پروګرام برخه دي، چې غوره بېټرۍ، چټک چارج او چټک ویک اپ ځانګړنې لري. دغو لپټاپونو کې د اینټل کمپنۍ ۱۱ جنرېشن ټایګر لېک ډوله پروسېسر کارول شوی دی. ال جي کمپنۍ د دغه لړۍ پنځه بېلابېلې بڼې معرفي کړې چې ۱۴، ۱٦ او ۱۷ انچه مخ‌پاڼه لري. دغه لپټاپونه د لږ وزن لرلو له امله ځانګړې شهرت لري. د ال جي ګرام ۱۷ انچه مخ‌پاڼه لرونکی لپټاپ یوازې ۱,۳۵ کیلو ګرامه، ۱٦ انچه مخ‌پاڼه لرونکې بڼه ۱,۱۹ کیلوګرامه او ۱۴ انچه مخ‌پاڼه لرونکې بڼه ۹۹۹ ګرامه وزن لري. ال جي ګرام ۱۷، ۱٦ او ۱۴ د ځانګړنو له پلوه سره ورته دي، خو د مخ‌پاڼې اندازه او د بېټرۍ وړتیا یې سره توپیر لري. ال جي کمپنۍ ادعا کوي چې ال جي ګرام ۱۷ او ۱٦ به په یو ځل چارج سره له ۱۹ ساعتونو ډېر چارج وساتي.

## له احساساتو څخه مو د وسیلې په توګه کار واخلئ



کله چې د حواسو تمرکز ولرو، کولای شو له خپلو احساساتو څخه کار واخلو او ځان راتلونکو پېښو او مسایلو ته اماده کړو او یا دا چې له هغو څخه په ګټې اخیستنې پر نورو هم مثبت او ګټور اغېز پرې باسو. د بېلګې په توګه، که تاسو په کافي اندازه په غوسه شی، هېڅ شی نه شي کولای ستاسو په وجود کې د شجاعت څپانده لمبې مړې کړي، کېدای شي تاسو یو غوسه ناک کس ونه اوسی؛ خو دا په دې مانا نه ده چې تاسو نه شی کولای په وجود کې مو د غوسې حس پیدا کړی او ګټه ترې واخلی. د «شجاعت معادله: پوهه څنګه کولای شي تاسو شجاع کړي؟» کتاب لیکوال رابرت بیسواس ډیېنر (Robert Biswas -Diener) وړاندیز کوي، کله چې غواړی زړور شی، نو په وجود کې مو یو څه غوسه راوپاروئ. تاسو کولای شی د هغو ارزښتونو په اړه د فکر کولو په وسیله د خپلې زړورتیا یا شجاعت تفکر زیات کړی، چې فکر کوی ستاسو لپاره مهم دي او د تر پښو لاندې کېدو په حال کې دي.

STUDENT'S
ACCOUNT



د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډېټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank